نظرمحمد مطمئن
۲۰۱۴/۰۹/۰۴

# د ناټو کانفرانس ته ولې بې واکه هيئت واستول شو؟
## او اشرف غني ولې د عبدالله غوښتنې نه منې؟

عبدالله عبدالله ته نږدې سرچيني وايي چې عبدالله ښه پوهيږي د حالاتو په خرابولو او بې ثباتي کې د ده او د دوی د ډلې ګټه نشته، سرچينه وايي چې عبدالله په ځانګړو مهمو مجلسونو کې ويلي چې د حالاتو خرابول آسانه کار دی، موږ به د موازي حکومت اعلان وکړو، ارګ ته به په زور ننوځو، مګر د حالاتو کنټرول او د واک ساتل بيا ګران دي، ځکه نړيواله ټولنه به خپلې مرستې ودروي، او ممکن هم نه ده چې موږ به واک په دغسي حالت کې بيا له ځان سره وساتو.
عبدالله د حالاتو د خرابوالي پر ځای سياسي جوړجاړي ته ترجيح ورکوي، مګر د ده په ټيم کې داسي کسان دي چې هغوی د سياسي جوړجاړي پر ځای د حالاتو خرابولو ته ځکه ترجيح ورکوي، چې د اشرف غني د حکومت په جوړيدو کې خپل ځای او ځان نه ويني.
تيره اونی چې کله د عبدالله ډلې له سياسي ډيالوګ څخه د وتلو اعلان وکی، اولتيماتوم يې د غني ډلې ته ورکړ، او بيا د ورځې په آخر کې دوی هيڅ ونه کړل، پرته له شکه چې د عبدالله ډله دغه ډول بيړنيو او ناسنجول شوو ځرګندونو زيانمنه کړه، او برعکس يې د اشرف غني ډله پياوړې کړه، د نړيوالو په سترګو کې يې د عبدالله د ډلې اهميت کم او د اشرف غني د ډلې اهميت لوړ کړ.
عبدالله د دې ترڅنګ چې د اجرايوي مشر صلاحيتونه او واک به زيات وي، د حکومت د کابينې مشري به کوي، ځينې نورې غوښتنې يې هم درلودلې، چې ټولې يې د اشرف غني او د هغه ډلې له پاره ځکه د منلو وړ نه وې، که د عبدالله غوښتنې منل شوې وای بيا نو د غني ډلې ته هيڅ هم نه پاتې کيدل يواځې نوم به ورته پاتې وای چې غني ولسمشر او د ده ډله په واک کې ده.
عبدالله د خپلو دوو مرستيالانو له پاره هم د غني څخه د مهمو چوکيو او امتيازاتو غوښتونکی ؤ، د دې سربيره د هغو ګردو نوماندانو چې دويم پړاو کې له ده سره يوځای شول د چوکيو او امتيازاتو غوښتونکی ؤ.
دا ډول د بلخ د زورواکي والي له پاره هم بايد غني ورسره معامله وکړي، مګر د غني او ډلې له پاره يې سخته ده چې د عطاء محمد نور او ګل آغا شيرزي شتون په خپل حکومت کې ومني، مګر داچې د امريکا او نړيوالو له يومخيز او ډير فشار سره مخ او بيا به يې ومني.
د عبدالله په ډله کې ځيني کسان همدا غواړي چې جوړجاړی ونه شي، يا خو حکومت ګرده دوی ته وسپارل شي، او يا پوره واک ورته ورکول شي، غني يواځې په نوم حکمران وي، لکه کرزی صاحب، ځکه هغوئ پوهيږي چې د سالم جوړجاړي او نسبتاً سالم ائتلافي حکومت کې د دوی ځای نه شته.
بل خوا نږدې له دريو کلونو عطاء محمد نور هڅه کوله چې د تاجکو يو قوي او ځواکمن مشر په ډول راځرګند شي، د تاجکو سهم يواځې پنجشير ته پرې نه ږدي، همدغه لامل به ؤ چې داسي راپوروونه هم ترلاسه شوي چې عطاء محمد نور غوښتل په يواځې ډول د طالبانو سره پټه رابطه ټينګه کړي، دا ډول د عطاء محمد نور ځينو پلويانو کلونه وړاندي داخبره هم کړې که دپنجشير د تاجکو پر ځای طالبان له عطاء محمد نور سره رابطه وساتي دا به د طالبانو او تاجک ټبر په ګټه وي، مګر په تيرو کلونو کې د مختلفو عواملو له کبله د عطاء محمد نور او طالبانو رابطه نه ده شوې، دا ډول د پنجشير څخه او د عبدالله د ډلې د جوړجاړي رابطه هم له طالبانو سره ونه شوه، يواځې د پاريس په کانفرانس کې د قانوني او مولوی دلاور تر منځ غير رسمي او د روغبړ خبرې يادولای شو.
اوس کرار کرار دغه د تاجکو سياسي او نظامي مشرانو ترمنځ درز راځرګنديږي، په دې وروستيو وختونو کې داسي راپوروونه ورکول شوي چې عطاء محمد نور عبدالله ته ويلي که اجرايوي پوست پنجشير ته ورکول کيږي، دويم امنيتي پُست (دفاع وزارت/ملي امنيت/کورنيو چارو وزارت) بايد چې د مزار په خوښه وي، هدف يې خپل ځان دی، چې ده ته ورکول شي او يا د ده د خوښې وړ کس ته به ورکول کيږي، دا ډول د بدخشان تاجک سياسي او زورواکي مشران چې له ډيرې مودې راهيسي د نظار شورا سره ستونزه لري، هغوئ هم په دې نه دي خوشحاله چې د تاجکو د قوم په سر سياسي او نړيواله معامله دې يواځې پنجشير وکړي، صلاح الدين رباني به خامخا د



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

بدخشان د خلکو له پاره مشخصي چوکی غواړي، د هرات د تاجکو په استازيتوب تورن اسماعيل خان چي د جمعيت په دننه کي او په ځانګړې ډول له عطاء محمد نور سره رقابت او د تير وخت ستونزې لري، هغه هم د عبدالله څخه د هرات د تاجکو له پاره د مشخصو چوکيو غوښتونکی دی.
د پروان او کاپيسا خلک ورته ستونزه لري، هغوئ هم د خپلو خلکو او سياسي کسانو له پاره له عبدالله څخه واک، امکانات او امتيازات غواړي.
بل خوا هغه پښتانه چي په ډير تکليف سره عبدالله د ځان ملګري کړي، هغوئ هم دا ډول غوښتني له عبدالله څخه لري، که عبدالله له غني سره يوځای کيږي بيا به دده سره د يوځای شويو پښتنو د غوښتنو د پوره کولو وس ونه لري.
محمود کرزي اشرف غنی ته دری شرطونه وړاندي کړي ؤ که شرطونه يې ومنل شي له غني سره يوځای کيږي:
د کابل بانک موضوع به د ده په حکومت کي نه څېړل کيږي، کوم چي محمود کرزی او د مارشال فهيم ورور يي په ډيوالي کيدو او اختلاس کي پړه ګڼل شوي.
د پلخمري د سيمنټو د فابريکي د دواطلبي ، قرارداد او پلورلو دوسيه به نه څيړل کيږي، کوم چي محمود کرزي د لږو پيسو په مقابل کي د خپل ورور حامد کرزي له حکومت څخه اخستي ده.
په کندهار کي د عينو مېني د ښارګوټي د ځمکي د غصب معامله به نه راپورته کيږي، چي اوس د محمود کرزي او ورونه په واک کي ده.
کله چي غني دهغه درې شرطونه ونه منل، سمدستي محمود کرزی د ولسمشر حامد کرزی ورور عبدالله ته ورغی، هغه په ورين تندي دهغه ياد شرطونه ومنل، او محمود کرزي هم له عبدالله څخه خپل ملاتړ اعلان کړ.
عبدالله له نورو د ځمکو غاصبينو او توپکسالارانو سره ورته ژمني کړي، ويل کيږي چي عبدالله ورته غوښتنه له غني څخه لري، عبدالله وايي:
۱-د ځمکو د غصب موضوع به نه څيړل کيږي، دولتي او شخصي ځمکي چي هر چا غصب کړي، دهغوئ سره به حکومت جنجال نه کوي.
۲-زما دواړو مرستيالانو او هغه نوماندان چي دويم پړاو کي له ما سره يوځای شوي دهغوی له پاره مشخصي چوکی او امتيازات به منل کيږي
۳-پنځلس ولايتونو ته به واليان زما په خوښه او دا ډول امنيتي وزارتونو ته به زما په خوښه کسان ټاکل کيږي.
۴-د عبدالله مهمه غوښتنه داده چي د حکومت د کابيني مشرې به اجرايوي رئيس کوي.
کله چي غني د عبدالله غوښتني ونه منلي د عبدالله د ډلي مهم غړي د ټاکنو د خپلواک کميسون پخوانی مشر فضل احمد معنوي د رسنيو پر مخ راڅرګند شو او د اشرف غني ډلي او د کرزي حکومت ته يي اخطار ورکړ. مګر اوس ويل کيږي چي د امريکا سفارت له خوا معنوي ته ويل شوې چي نور بايد له دغه ډول څرګندونو څخه لاس واخلي، بيا ځل داسي څرګندوني ونه کړي چي حالات د خرابي خواته بيايي، داسي هم ويل کيږي چي معنوي ته د امريکا سفارت له خوا ويل شوي چي نور رسنيو ته ولاړ نه شي، که ځي هم په احتياط او د امريکا د پاليسي سر سم څرګندوني وکړي.
شپږ مياشتي کيږي چي لومړنی ټاکني وشوې، لا هم پايلي نه دي معلومي، او کرزي يوه بله موقت دوره سرته ورسوله، ځکه دهغه لومړی موقت حکومت هم ۶ مياشتي ؤ.
د طالبانو وروستی اعلاميه په داسي وخت کي خپره شوه چي د ناټو کانفرانس ته دوه ورځي پاتي وي، او دغه اعلاميه د کانفرانس څخه مخکي خپره شوې، داسي اعلاميه چي ډيرو مهمو ټکو ته پکي اشاره شوې وه، زه دلته په اعلاميه تبصره نه کوم، مګر داسي معلوميږي چي د ټاکنو پايلي د امريکا د پلان سره سم ځنډول کيدلي، او دابايد د کانفرانس څخه وروسته اعلان شوي وای.
فکر کيږي چي امريکا غواړي له افغانستان څخه په توليز ډول خپل پوځيان وباسي، دا ډول امريکا د امنيتي تړون د لاسليک له پاره هم زړه نا زړه ده، نه پوهيږي چي د دوی له پاره به يي ګټه زياته او که تاوان به ورته وکړی، ځکه طالبانو ويلي که امنيتي تړون لاسليک کيږي نو بيا دوی هيڅ ډول سياسي ډيالوګ ته له امريکا سره نه دی حاضر، بل خوا دواړو کانديدانو ژمنه کړي وه چي که ولسمشر شي نوسمدستي به امنيتي تړون لاسليک کوي، که چيرته غني او يا عبدالله د ناټو کانفرانس څخه مخکي اعلان شوی وای، حتمي وه چي دوی به د امنيتي تړون د لاسليک ژمنه په ويلز کي د ناټو په کانفرانس کي کوله، کوم چي نور يي د امريکا او طالبانو تر منځ راتلونکي سياسي ډيالوګ ته د پای ټکی کيښودی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

معلومیږي چې امریکا هم نه غوښتل چې د افغانستان څخه دي غني او یا عبدالله د ناټو کانفرانس کې د ولسمشر په توګه ګډون وکړي او د امنیتي تړون د لاسلیک ژمنه دي د ګنو هیوادونو د مشرانو او دفاع وزیرانو په مخکې وکړي.

امریکا هڅه کوي چې د طالبانو سره ستونزه حل کړي، او په راتلونکي کې هم د طالبانو سره د اړیکو په اړه فکر کوي، تر څو د طالبانو له لوري د خطر احساس ونه کړي، چې همدغه خبره دواړو(امریکا او طالبانو) کړي هم ده، امریکا اعلان کړی چې طالبان د دوی دښمن نه دي، او طالبان له القاعده څخه جلا ډله ده، دا ډول طالبانو اعلان کړی چې دوی د واک انحصار نه غواړي، او نه به د دوی له خوا نړۍ او هیوادونه وګواښل شي، بلکه متقابل احترام باندي عقیده لري، نه چاته اجازه ورکوي چې د دوی په کورنیو چارو کې مداخله وکړي او نه به خپله د کوم هیواد په کورنیو چاروکو مداخله وکړي، فکر کیږي چې غیر مستقیم دواړه امریکا او طالبان هڅه کوي چې یو ډول توافق ته ورسیږي، په افغانستان کې د بهرنیانو شتون ختم او یرغل پای ومومي .

اوس چې د ناټو کانفرانس ته د دفاع وزیر بسم الله محمدي تللی، د افغانستان اړوند مسایلو د پریکړو د منلو او ردولو واک او صلاحیت به ونه لري او نه به یې نړیواله ټولنه ورکړي.

د بسم الله محمدي په مشري د ناټو کانفرانس ته د تلونکي هیئت یو غړي په ډیره بې شرمې د انګلستان له لومړي وزیر څخه په بریتانیا کې د پناه اخستلو غوښتنه وکړه، چې دغه ډول کړنه د هیئت واک، صلاحیت او د هیواد سره مینه تر سوال لاندي راولي.

د ناټو د کانفرانس وروسته زما په آند چې ممکن د ټاکنو پایله به ژر اعلان شي، اشرف غني به ولسمشر او د عبدالله ډله به په حکومت کې ورسره شریکه او غوښنه ونډه ولري. مګر بیا هم کرزی به هڅه وکړي چې دواړه نوماندان جوړجاړي ته ونه رسیږي، په دواړو کمپونو کې کرزی خپل پلویان لري، او هغوی له کرزي څخه د شپې هدایات اخلي، کرزی هڅه کوي چې د څه نور وخت له پاره بیا هم په واک کې پاتي شي، ولي د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر مرستیال په کابل کې دی کوشش کوي چې دواړه نوماندان جوړجاړي ته ورسیږي، او کرزي ته یې هم د اوباما پیغام رسولي چې د حالاتو د خرابیدو هڅې نورې ونه کړي.

دا ډول جان کیري بیا ځل له دواړو نوماندانو سره خبرې کړي، فکر کیږي چې امریکا به اوس خپل ګرده فشار په غني او عبدالله راوړی ترڅو جوړجاړی وکړي، زه په دي هم باوري یم، که امریکا غوښتلای چې د ناټو کانفرانس مخکې دواړه نوماندان جوړجاړی وکړي، نو دوی کولای شول، ځکه دواړه نوماندان د امریکا غوښتنو ته لاس په نامه ولاړ او لبیک ورته وایې.

له دي وروسته که امنیتي تړون لاسلیک کیږي، د تیرامنیتي تړون په مصوبه کې به بدلون راځي، تغیر به کوي، او ممکن داسي ماده هم پکې زیاته شي چې که طالبان او امریکا توافق ته سره رسیږي، بیا افغان حکومت سره خبره کیږي، او یو جوړجاړی صورت نیسي، نو تړون به په اتومات ډول سره فسخ کیږي.

امریکا او نړیوالو ته په کار ده چې بیا ځل د دوی او افغان حکومت په مقابل کې وسلوال مقاومت عادي ونه ګڼي، د خپلو پوځیانو وتل حتمي کړي، په افغانستان کې د یوه خپلواک او مستقل حکومت د جوړښت ننګه وکړي، اوس وخت کې ښه داوه چې مؤقت حکومت د بې پلوه کسانو له خوا جوړ شوی وای، دغه بیطرفه حکومت د راتلونکې منتخب حکومت له پاره لاره هواره کړي وای، او بالاخره یو خپلواک، افغان شموله او افغان ولس ته د منلو وړ حکومت جوړ شي. په دغه صورت کې به ناټو او امریکا د اوکراین، سوریې، عراق، لیبیا او یمن اړوند ستونزو ته هم خلاص وای، د افغانستان د لوړ اقتصادي او سخت جنګ پیټی به یې له غاړي کښته شوی وای، له روسیې، هند، چین سره به ډغرو وهلو ته نسبتاخلاص وای.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ